# د نورالله شاه اغا د زېږون نېټه، ځای ، زدکړې او مړینه: تحقیقي مطالعه

**A Study of the Date of Birth, Place, Education and Death of Noor Ullah Shah Agha**

شیخ بسم الله خیالي*
عبدالرحمن کاکړ♦

**Abstract**:

Noor Ullah Shah Agha was one of the versatile personalities of Southern Pashtoon Khwa. He was a poet, religious scholar, mathematician, health care provider, politician and a chieftain. He had authored about eighty books which includes Pashto, Persian, Arabic and Urdu prose and poetry.Anyhow, most of his books are either missing or not published yet.This paper is to correct the very basic information about Noor Ullah Shah Agha which includes his date of birth, place of birth, education and place of death.The authors of this paper strived to trace the genuine dates in the light of authentic sources.

**Keywords:** Noor Ullah Shah Agha, Pashto literature, Southern Pashtoon Khwa.

**تعارف**:

له مخه تر دې چې د اروابناد نورالله شاه اغا د ژوند د پټ اړخونو په هکله نېغ په نېغه خبره پېل کړو، له ګټې به خالي نه وي چې د ده پېژندګلوي درته وکړو.

نورالله شاه اغا د سیمي د روایت مطابق په اغا صاحب مشهوره ؤ. په سهېلي پښتونخواه کښې زیاتره قدرمن ، عالم او بزرګ شخصیاتو ته د اولس له خوا په اغا صاحب وئیل کېدل، یعني دا یو عمومي نوم ؤ چې په سېمه کښې به د یو نیم چا په برخه ؤ.

نورالله شاه آغادسهیلي پښتونخوا په کلي زړه سنځاوۍ (تحصیل سنځاوۍ، ضلع زیارت) کښې په 1928ع کښې د سید عبدالاحد کره زېږېدلی دی چې پخوا دغه تحصیل د ضلع لورلائي (بوري) برخه ؤ. د دوو کلونو په عمر کښې پلار له دې فاني نړۍ څخه د ابد له پاره سترګې پټې کړې چې ورسته ئې اکا (تره) زېرمه او تربیه کړې. که څه هم د ژوند زیاته برخه او اخرنۍ دوره ئې په سنځاوۍ کښې تېره کړې ده خو په پښین او قلعه عبدالله خان کښې هم څه موده تېره کړې ده.

---

* M.Phil Scholar; Department of Pashto, UoB, Quetta
♦ Lecturer, Department of Pashto, UoB, Quetta

اروابښاد نورالله شاه لوی مذهبي عالم، مصلح، شاعر، قبائیلي، روحاني شخصیت او لیکوال ؤ. د ده د شخصیت په روښانه کولو کښې د ده له دیني او عصري علومو پوهي پرته پر ژبو عبور هم ګڼلای شو.

اروابښاد نورالله شاه آغا چې دنور تخلص ئې غوره کړئ ؤ د پښتو ،اردو،عربي او فارسي ادب په ډګر کښې د خپل تخیل اسونه ځغلولي او خپل مقام یې د پښتو ، اردو،عربي اوفارسي ادب په غیږ کښې داسي جوړکړی چې د هر یوه لمن یې ګلورینه کړې ده۔ د ده له لیکنو څخه داسي ښکاري چې ټول ژوند ئې و لیکلو ته ورکړي چې په کښې مذهبي، ادبي، سیاسي، اصلاحي اور نور موضوعاتو باندي خپل نظر د شعر او نثر په ژبه کښې څرګند کړی. د علم و ادب له ملغلرو ډک اتیا (80) کتابونه ئې و خپل شاته پاته او ځپلي اولس ته هغه وخت ورپرې ایښي چې اروابښاد ئې په خپله سوانح عمري کښې ذکر کړی دی.

موږ یادونه وکړه چې اروابښاد نورالله شاه اغا د سیمي پر مروجه ژبو لاس بری ؤ ځکه ئې په دغه ژبو کښې شعر او نثر دواړه لیکلي دي. په دې کښې لومړی دپښتوادب په لمن کښې دپښتوشاعرۍ ټولګه د "جلوه نور" په نامۀ ور اچولې ده، . او ور سره یې د "طریقت په نظر د شریعت کښې" ،"دنن زمانې پیران "، "مشهور متلونه افغاني" ،"نورالعقائد منظوم" او نورو د پښتو کتابونه ور پېرزو کړي دي .

دغه ډول په اردو کښې هم لیکني کړې دي چې په کښې د اردو شاعرۍ ټولګه د "شعله نور" په نامۀ او نور علمي کتابونه ور پېرزو کړي دي۔ هم دا رنګه یې د فارسي ادب و لمن ته د "دېوان نور"او "مثنوي نور " په نومونه کتابونه لیکلي دي. له دې پرته ئې نور هم چاپ او ناچاپ کتابونه په بره ذکر شویو ژبو کښې لیکلي دي چې د ریاضي ،طب ،میراث او منطق رنګه ګرانو موضوعاتو باندي لیکل شوي دي.

اروابښاد نورالله شا آغاکه یوې خواته فاضل ، عالم، شاعر، لیکوال او ادیب وو. بلي خواته حکیم ،طبیب ، مفتي، مذهبي عالم ، روحاني ،سیاسي ، قبائلي و سماجي شخصیت درلودلی، بل لوري ته ئې د عام وګړو په شان کر و کرونده، دکانداري او نور ژوند کولی. له دې ټولو پرته په اولس کښې د روحاني بزرګ رتبه لرله ځکه به خلګو تعویزان او دمونه په کول. دا ډول د خلګو روحاني او جسماني درملنې هم کولې.

متاسفانه کومه رتبه او مقام چې و اغا ته ورپه برخه ؤ، له هغه څخه اولس هغه ګټه نه کړه پورته کومه چې په کار وه. د ده افکار نن هم د ناچاپه کتابونو په بڼه کښې تر خاورو لاندي دي او اولس ته نه دي

وړاندي کړل شوي. د دې نابغه زیاتره آثار له بده مرغه دګوتو په شمېر چاپ شوي دي. هیله ده په راروان کښې به د چاپ په ګېڼه سنبهال شي. خو اغا صاحب د دې ګیله په ژوند کښې کړې چې:

"زاغانو پر ګلشن د بلبلانو قبضه وکړه
بې ادبو پر وطن د بلبلانو قبضه وکړه"(۱)

د اروابښاد نورالله شاه اغا د تعارف وروسته راګرځو د دې مقالې هغه برخې ته په کوم کښې چې د ځینو لیکوالانو له خوا د اغا صاحب د ژوند او له ژوند سره اړه لرونکي نورې تېروتني شوي دي، هغه دلته د کره دلائیلو په رڼا کښې د سمولو هڅه کوو.

لومړی ګورو چې د اغا صاحب د زېږون په هکله د لیکوالانو په راوړل شویو نېټو کښې زیات توپیر تر سترګو کیږي.

**د زېږون نېټه**:

د اروابښاد نورالله شاه د زېږون د نېټې په هکله چې څومره معلومات د تذکرو یا نورو لیکنو له لارې تر موږ پورې رارسېدلي دي، په هغه ټولو کښې توپیر شته او ټولو د ده د زېږون په هکله ناسمي نېټې راوړي دي.د دهٔ په اړه بنیادي معلومات په درې څلور ډوله راورل شوي دي.

دغه معلومات د هغو لیکوالانو په لیکونو کې دي چې پخپله یا خو دآغا صاحب دسیمې نه دي یا یې په دې اړه معلومات نیمګړي دي- د حافظ خان محمد مرحوم تذکره په هغه لومړی لیکنو کښې راځي چې د اغا صاحب په هکله معلومات راکوي. حافظ مرحوم لیکي:

" ملا سید نورالله جان صاحب دسملن دبوري اوسېدونکي دی- دی دپښین حسیني شنغری دی.اوس اوه ویشت کلن ځوان دی"(۲)

حافظ خان محمد کاکړ یې دلته د زیږون نیټه نه ده لیکلې، ممکنه ده چې دهٔ به په دې اړه پلټنې نهٔ وي کړي یا چې کوم چا دهٔ ته دغه معلومات ورکړي یا له کوم بلې لارې لاس ته راوړي وي دهغو په لیک کښې به د آغا صاحب زېږون نېټه نهٔ وي لیکل شوي- د حافظ خان محمدد تذکرې سره تر څنګ سیال کاکړ صاحب هم په خپله تذکره کښې د آغا صاحب ذکر راوړئ دی خو فرق ئې دا دی چې سیال کاکړ د آغا صاحب زیږون نېټه لیکلې ده- دا چې زېږون نېټه یې سمه لیکلې ده او که غلطه دا به ورسته ولیکم او خپل دلیل به وړاندي کړم خو لومړی د سیال کاکړ او نورو لیکوالانو لیکونه ګورو-

پروفیسرولي محمد سیال کاکړ د آغا صاحب د زېږون نېټې په هکله په خپله تذکره "دکسې دلمني پښتانه لیکوال" کښې لیکي:

" سيد نورالله شاه مشهور په آغا صاحب، د پښتو دغه حيا ناکه شاعر د۱۹۲۵
عېسوي کال په شاوخوا کي [کښې] دبوري په زړه سنځاوی نومي کلي کي [کښې]
دپشين دنامتو مولوي سيد عبدالاحد شين غري پر نغري باندي پيدا سو"(۳)

د سيال کاکړ تر څنګ يو بل ليکوال ډاکټرعبدالروف رفيقي هم په خپله تذکره کښې د آغا صاحب د زېږون په اړه ليکلي دي - دسيال کاکړ تذکره دکسي دلمني پښتنانه ليکوال لومړی چاپ شوې ده او د رفيقي صاحب تذکره ورسته ده او د ډاکټر عبدالروف رفيقي ماخذ دسيال کاکړ تذکره ده- دی ليکي:

"سید نوراللہ شاہ مشہور بہ آغاصاحب کا تعلق پشین کے حسینی شنغری سید خاندان سے ہے. آپ ۱۹۲۵ کے حدود میں سنجاوی میں عبدالاحد کے گھر میں پیدا ہوئے".(۴)

ډاکټر عبدالروف رفيقي يې د زوکړې نيټه د سيال کاکړ او حافظ خان محمدمرحوم له کتابونو څخه د حوالې په توګه را اخيستې ده. ځکه نو د دوی دوو راوړل شوي نېټې ډول دي.

له دې ورسته په يو بل نورالدين عديم ثاني په خپل کتاب «ژړوي مي هغه تللي تللي خلګ»کښې د آغاصاحب د زېږون نېټه يو بل ليکوال له دوی دواړو څخه بېله راوړې ده، چي د سيال کاکړ او ډاکټر رفيقي له ورکړل شويو زيږون نېټو سره ۱۸ اتلس کاله فرق لري- هغه د آغا صاحب زېږون نيټه ليکلې ده او ورسره يې مياشت هم ليکلي ده- چې سيال کاکړ او ډاکټر رفيقي ئې يواځې کال راوړی دی. دې ليکوال د آغا صاحب دپلار نوم هم له رفيقي صاحب او سيال کاکړ څخه جلا ليکلی دی- مانا دا چي سيال کاکړ او ډاکټر رفيقي ليکي چي دپلار نوم يې عبدالاحد دی- مګر نورالدين عديم ثاني يې دپلار نوم بل څۀ ليکلی دی- نور الدين عديم ثاني په خپل بره ذکر شوي کتاب کښې داسي ليکي :

"سيد نورالله شاه آغاچې د سيد محمد شاه آغا زوی ارجمنددی.په کال ۸ستمبر
۱۹۰۷ کي يې پردې دنيا سترګي روښې کړي دي. او په کال ۲۰جنوري ۲۰۰۷ کي يې
ددې فاني څخه کوچ وکړو.آغا صاحب ځان ته دنور تخلص غوره کړی ؤ"- (۶)

د زېږون نيټې په اړه له پورته درې سره ليکوالانوڅخه بېل زيږون نېټه يې صاحبزاده حميد الله مرحوم هم ليکلې ده- چي د سيال کاکړ ،ډاکټر عبدالروف رفيقي او عديم ثاني له راوړل شويو زېږون نيټو سره توپير لري- اروابناد صاحبزاده حميد الله يې د زېږون نيټې په اړه وائي:

" په ۱۹۳۰/۳۱ع کي زوکړۍ دی" (۷)

دوی ته دا معلومات له کومه په لاس ورغلو او دومره زيات فرق او نيمګړتياوي ولي لري؟ چي نور الدين عديم ثاني يې دپلار نوم سيدمحمد شاه آغا او په کال 8 ستمبر 1907 يې زيږون نېټه ليکلې ده .دې څلور سره ليکوالانو چي کومې نېټې ليکلي دي په دې تاريخونو کښې اتلس او شل کاله فرق دی- سيال کاکړ ،حافظ خان محمد او ډاکټر رفيقي صاحب يې دپلار نوم عبدالاحد ليکلی دی.او نورالدين عديم ثاني يې محمد شاه ليکلی دی. چي دمځکي او آسمان فرق يې دی-

لکه څه رنګه چي يې پورته د پلار په نامهٔاو زېږون نېټو کښې توپير ليدل کيږي هم دارنګه يې په زېږون ځاى، دکړو، کتابونو او نورو معلوماتو کي هم توپير تر سترګو کيږي- دکتابونو په شمېر کي يې بيخي زيات دليکوالانو ترمنځ توپير ليدل کيږي. سيال کاکړ يې د شپږو کتابونو ذکر کړی دی.اوډاکټر رفيقي صاحب يې د اوو کتابو نومونه ليکي دي. حافظ خان محمد يې ده يوهٔ کتاب ذکر هم نهٔ دی کړی. او نورالدين عديم ثاني يې ده پنځه شپېتو کتابوذکر او نومونه ليکلي دي. کوم چي د آغا صاحب پر کتاب باندي په فهرست کي ليکلي دي- مګر د آغا صاحب د کتابو شمېر تر دې ټولو زيات دی اغا صاحب په خپله سوانح عمري کي د اتيا(80) کتابو ذکر کړی دی .

**د زېږون نېټي په اړه کره نظر**:

لومړی مود آغا صاحب له ورور سيد نورالحق آغا څخه پوښتنه وکړه چي آغا صاحب کله پيدا شوی ؤ؟ دهٔ راته وويل چي " آغاصاحب د کوټي په لويه زلزله کښې تقريبا د اوو(۷) يا اتو(۸) کلونو ؤ. دهٔ ويل چي دا خبره زموږ مور راته وکړه چي آغا صاحب تر تا مشر دی او کله چي دکوټي لويه زلزله وه ، په 1935کښې. د زلزلې په شپه چي زلزله شروع وه، آغا صاحب داسي لوی ؤ چي له خوني(کمرې) څخه په خپله راووتلی او ته ماشوم وې،ماپه غيږ کښې راوه ايستلې"

موږ دا وئيلای شو چي آغا صاحب که دکوټي په لويه زلزلهکښې د اوو کلونو ؤ نو بيا يې د زېږون نېټه 1928راځي او که يې د اتو کلونو شمار کړو نو به دا کال 1927 شي.

له دې سره سره موږ ته د اروابښاد نورالله شاه شناختي کارډ په لاس راغلی چي په نولس سوه څلور اويا کښې جوړ شوی دی.د آغا صاحب کمپيوټرائزډ شناختي کارډ چي په ۲۰۰۵ کښې جوړ کړل شوی دی په لاس راغلی دی- په دې دواړو شناختي کارډنوکښې د زېږون نېټه ۱۹۳۲ ليکلې ده.شناختي کارډونه هم غير يقيني صورتحال را منځ ته کوي. خو د شناختي کارډونو نېټي بيخي د منلو وړ نه وي- ځکه چي هغه وخت کښې شناختي کارډونه مشرانو جوړول چي کوم عمر به يې اندازه ولګوله، هغه عمر به يې ور وليکلو- بله داچي په پښتنو کي دماشومانو دعمرونو ليکلو رواج هم نه ؤ- نو د ماشومانو دعمر اندازه به يواځي دهغوی ميندو ته معلومېدله- چي کله زوکړی دی- لکه دغه دکوټي لويه زلزله چي يې نښاني په ياد ده-

که د شناختي کارډ له رويه ورته وګورو نو هم د اغا صاحب د مور خبرې سره نزدې ئې د زېږون نېټه ده. د محترم سيال کاکړ صاحب، ډاکټر عبدالروف رفيقي صاحب، نورالدين عديم ثاني ده د زېږون په هکله کومې نېټي راوړي په هغوی کښې د شناختي کارډ سره ئې د مور اټکل شوې نېټه نزدې ده.

د اغا صاحب د زېږون په هکله دريم او تر هر چا کره دليل د ده د خپل لاس ليکل شوې خپله سوانح عمري ده ، چي په کښېدزيږون نېټي سره سره ، زېږون ځای په اړه ټول ابهامونه لرې کړل شوي دي- د نورالحق آغا چي د آغا نورالله شاه ورور دی، د دهٔ د مور له خولې او د آغا نورالله شاه په لاس په اردو

ژبه لیکلې سوانح حیات کښې لیکل شوي تاریخونه ټول یو شان راځي۔آغا صاحب په خپله سوانح حیات کښې لیکي:

"سوانح حیات جناب آغانوراللہ فاضل الہاشمی سنجاوی1928 میں بمقام سنجاوی ضلع لورالائی میں پیدا ہوئے۔"(۸)

پر دې اساس وئیلای شو چې د اغا صاحب د زېږون نېټه د دې مقالې تر لیکلو ۱۹۲۸ ګڼو. د اغا صاحب پر ژوند او خدماتو باندي مو باقاعده څېړنیز کار روان دی، کېدلای شي نور کره تاریخونه هم په لاس راشي.

**د زېږون ځای:**

د اغا صاحب په هکله په تذکرو کښې برسېرن معلومات خو راوړل شوي دي خو ژورې څېړني نه دي شوي، ځکه تر اوسه پوري د اغا صاحب د ژوند، د ده د اثارو او خدماتو په هکله ډېر څه زموږ له نظره نیام دي.

په دې برخه کښې د ده و زېږون ځای ته ګورو چې د هغه په هکله د لیکوالانو په لیکنو کښې توپیرونه شته او لوستونکو ته خبره نه صفا کیږي چې دی چیرې زېږېدلی دی؟ راګرځو د لیکوالانو نظرونه د دوی د لیکنو په حواله ستاسو مخ ته ږدو.

په دې اړه موږ د اغا صاحب و پیر ته نژدې لیکوال حافظ خان محمد کاکړ حواله را اخلو. دی لیکي:

"ملا سید نورالله صاحب دسملن دبوري اوسېدونکي دی" (۹)

د سوهېلي پښتونخوا نوموړی لیکوال او محقق صاحبزاده حمیدالله په دې اړه لیکي:

"مولوي سید نورالله شاه دپښین ضلعې د قلعه عبدالله د سیمي شنغری سید دی. آغا نورالله شاه په سنځاوۍ ضلع لورالائي کښې د ډېره وخته میشته او په ۱۹۳۰/۳۱ع کښې زوکړئ دی" (۱۰)

پروفیسرولي محمد سیال کاکړ د ده د زېږون ځای په هکله لیکي:

"ده پښتو دغه حیا ناکه شاعر د۱۹۲۵ عیسوي کال په شاوخوا کي دبوري په زړه سنځای، نومي کلي کي دپشین دنامتو مولوي سید عبدالاحد شین غري پر نغري باندي پیدا سو"(۱۱)

ډاکټر عبدالروف رفیقي چي ماخذ ئې د پروفېسر سیال کاکړ او حافظ خان محمد کاکړ اثار دي، لیکي:

"آپ ۱۹۲۵ کے حدود میں سنجاوی میں عبدالاحد کے گھر میں پیدا ہوئے"(۱۲)

د آغا صاحب داستوګن ځای په اړه څلور ليکوالانو بېل بېل ليکونه ليکلي دي- لومړی حافظ خان محمد پورته ليکلي دي چې دسملن د بوري اوسيدونکی دی- خو سم وضاحت نه کوي او ناسمه ده- په دې نيمګړتيا د هغه خلګو سر خلاصيږي چې د دې دواړو سيمو بوري او سملن په اړه څه معلومات لري- ځکه چې سملن او بوری دوې جلا جلا سيمي دي- که حافظ خان محمد داخبره داسي ليکلې وای چې د بوري دسملن دسيمي ياعلاقې اوسيدونکی دی نو به هم دغه خبره سمه وه- ځکه چې سنځاوۍ يو وخت کي د بوري تحصيل وو- سملن دسنځاوۍ زوړ نوم او ځان ته جلا علاقه ده چې اوس دا وخت په سنځاوۍ مشهوره ده- خو هغه وخت سملن دبوري تحصيل ؤ.

دوئم د صاحبزاده حميد الله صاحب په تذکره کښې دا نۀ دي ليکلي چې چرته زېږېدلی دی؟ خو د پشين ضلعې د قلعه عبدالله دسيمي يي بللی دی او په سنځاوۍ کښې ميشته ليکلی دی- زېږون نېټه يي ليکلې ده خو زېږون ځای يي نه دی ليکلی-

دريم سيال کاکړ او رفيقي صاحب يې دکلي نومونه سم ليکلي دي- دلته به دا وضاحت وکړو چې آغا صاحب سنځاوۍ کښې د کلي ( زړې سنځاوۍ ) اوسيدونکی دی. چي دسنځاوۍ له بازاره پر لمر خاتۀ يو کلی دی. په دې کلي کښې زېږېدلی دی- دسيال کاکړ او حافظ خان محمدصاحب په تذکرو کښې يو څه دارنګه فرق هم موجود دی. سيال کاړ وايي چي دبوري په زړه سنځاۍ نومي کلي کي دپشين دنامتو مولوي سيد عبدالاحد شين غري پر نغري پيدا سو- دلته لږ نور وضاحت کول ضروري دی چي اول خو زړه سنځاوۍ د بوري يو کلی نۀ دی بلکې د سنځاوۍ يو کلی دی او موږ په تېرو کرښو کښې هم ذکر وکړی چي سنځاوۍ ځان ته علاقه ده او خپل تر يوسل شپېتۀ (۱۶۰) زيات کلي لري. (۷) اووۀ يونينه لري- داوخت له سرکاري حسابه د ضلع زيارت تحصيل دی- او د ميونسپلټۍ درجه ورته په برخه ده. دنفوسو شمېر يې په مردم شماري کښې اووه نيوي (۹۷) زره ليکل شوی دی. مګر سنځاوۍ ته يوکلی ويل بيخي نامناسبه خبره ده- دبوري سيمه ياتحصيل ورته ويل بې زايه نه دی او په تاريخي لحاظ هم شواهد سته-

**زدکړې**:

د اروابښاد اغا نورالله شاه د زدکړو په هکله هم دغسي ابهام دی لکه د ژوند نور اړخونه چې مبهم دي.

د زدکړو په اړه يې زياتو ليکوالانو څه نۀ دي ليکلي او په علاقه کښې د دۀ د زدکړو په اړه بېل بېل روايات موجود دي- څوک وائي څلور کاله، څوک وای درې يا دوه کاله يې ديني زدکړې کړي دي- او دوی د آغا صاحب علم ته فضلي علم وائي چي د ا ده خدای پاک له طرفه پر اغا صاحب لويه لورينهده. او بيا دې خلګو ته دومره هم نه وي معلوم چي آغا صاحب چرته؟ کله ؟ او کومې زدکړې کړي دي؟ زياتره ليکوالانو هم نۀ دي ليکلي. راګرځو د ليکوالانو و ليکنو ته ګورو چې په کښې لومړی د حافظ خان محمد کاکړ نظر درسره شريک کوو. دی ليکي:

" ...مکتبي تعليم تر مډل پوري په څلور کاله کي حاصل کړ. بيا يې اسلامي مروجه کتب په دوه کاله کي ولوستل.دعمر په شلم کال کامل عالم سو-(۱۳)

سيال کاکړ صاحب ليکي چي:

"دغه خواريکښه انسان په پشين کي د ښيونځي تحصيلات تر شپږم ټولګي پوري کړي او بيا ورسته يې ديني کتابونه په رسمي ډول تر هيدائي پوري ويلي .البته په خپل شخصي زيار يې زياتره مروجه ديني او فني کتابونه پای ته رسولي دي"(۱۴)

ډاکتر عبدالروف رفيقي صاحب ليکي چي:

*" حافظ خان محمد کا کہنا ہے کہ مکتبی تعلیم مڈل تک صرف چار سال کی مدت میں پائے تکمیل تک پہنچایا. اور دیگر اسلامی مروجہ کتب صرف دوسال کے عرصے میں مکمل کر لئے.اس طرح بیس سال کی عمر میں عالم دین بن گئے . جب کہ پروفیسر سیال کاکڑ کا کہنا ہے کہ سید نوراللہ شاہ نے سکول کی تعلیم چھٹی جماعت تک حاصل کیا (۱۵)"*

لومړی حافظ خان محمد صاحب ليکلي چي په څلور کاله يي تر مډله پوري مکتبي علوم حاصل کړل او په دوه کاله يې ديني علوم حاصل کړل چي ټول شپږ کاله جوړيږي-خو دايې نۀ دي ليکلي چي دا زدکړي يې په کومه مدرسه او سکول کي تر سره کړي دي؟ او په دومره کم وخت کي څنګه کامل عالم سو؟

دوئم سيال کاکړيې سيمه د حافظ خان محمد په رنګه سمه ليکلې ده خو دا يې نه دي ليکلي چي څومره ؟ او په څومر ه کلونو کښې حاصل کړي دي؟ د عصري علومو په اړه د سيال کاکړ او حافظ خان محمد تر منځ فرق موجود دی- سيال کاکړ يې تر شپږمه او حافظ خان محمد صاحب يې تر مډله پوري بولي- دغه فرق يې رفيقي صاحب هم په ګوته کړی دی-

دآغا صاحب د زدکړو په اړه د سيمي په خلقو او ددۀ په شاګردانو کښې تر اوسه پوري ډېر روايات موجود ۇ. هرچا به د خپل ياداښت مطابق ځواب ويلی- په هغو کښې يو د دۀ ورور نورالحق آغا وئيل چي له ده سره يې تر څلورم ټولګي پوري په يوه ځای په قلعه عبدالله کښې سکول ويلی دی. هغه وخت ۱۹۳۶ کال ۇ- دی زياتوي چې "ما او آغا صاحب په يوه جماعت کښې ۇ. سکول ته پر يوه ځای تلو راتلو - که څه هم آغا صاحب تر ما مشر ۇ. موږ په ګلستان کښې پرائمري سکول ته تلو چې هغه وخت کښې پرائمري سکول تر څلورم جماعته پوري ۇ. ورسته بيا په ګلستان کي تر مډله پوري سکول نه وو- نو آغا صاحب بيا د پښين بازارګي سکول ته تلو چي هلته يې تر مډله پوري سکول وه ويلو- دلته دا يادونه اړينه ده چې د دوی په وختونو کښې مډل په شپږ کاله کښې ورته وئيل کېدلی ځکه کلونه شپږ او سرټيفکيټ د اتم ورکول کېدلی. په سکول کښې آغا صاحب ترما ښه وو- زما به سبقان دومره نۀ زده

کیدل لکه د آغا صاحب چې به زده کېدل- ځکه چې دی تر ما یونیم کال مشر وو- او لکهائي (مانا خط) زما غه تر آغا صاحب شائسته وو خوشخطي زما دا تر زیاته وه" له دې څخه دا خبره صفا کیږي چې اغا صاحب تر اتمه پوري سکول وئیلی دی.

آغا صاحب لومړنۍ دیني زدکړې دکلي پر ملا باندي په قلعه عبدالله کښېکړي دي. بیا له خپل وروره سره پرائمري سکول په قلعه عبدالله کښې ویلی دی، تر څلورم جماعته پوري- دیني زدکړي یا د مدرسې سبقان ئې د بوري د مولوي عبدالحق صاحب په مدرسه کي وئیلي دي او یوکال يې دناناصاحب پر زیارت له یو ملا سره کتابونه ویلي دي، چي باقاعده مدرسه نۀ وه. ټول دوه کاله جوړیږي چي آغا صاحب دیني زدکړي یا مدرسه ویلې ده .

د آغا صاحب له شاګرد غلام محمد اخوندزاده (مشهور په چونګۍ اخوندزاده) څخه ما د دۀ په اړه پوښتني وکړي - هغه هم دا وائي: چي "هغه وخت کي پرائمري سکول تر څلورمه وو آغا صاحب او د دۀ ورور سید نورالحق دواړو تر څلورم جماعته سکول ووایۀ- بیا ورسته اغا صاحب دپښین بازار سکول ته ولاړ هلته يې تر شپږمه سکول وویلی.

آغا صاحب لومړۍ دیني زدکړې دکلي پر ملا باندي په قلعه عبدالله کښې کړي دي.نو يې یواځې یوکال دیني سبقان ویلي دي دبوري دمولوي عبدالحق صاحب په مدرسه کي-

د نورالله شاه آغا سوانح حیات کښې آغا صاحب لیکي چي:

*" ۱۵ سال کی عمر میں ناظرہ سے فارغ ہوا اور ایک سال علوم دینیہ میں مشغول ہوا۔ اور اس کے بعد اپنے گھر میں مطالعہ کتب اور تدریس علوم دینیہ میں مشغول ہوا".(۱۶)*

**مړینه**:

آغا صاحب په آخري عمر کښې ډېر ضعیفه شو- خو بیا به هم خپل دکان ته تللی راتللی -آغا صاحب پر سکوټر ګرځېدلی- ما اوریدلي ؤ چې یوه شپه په ویالۀ کښې سکوټر غورځولی وواو زخمي شوی وو- له یخه سکاوري هم وهلی وو- چي بیا يې ډېرو ډاکترانو ته یو وړی خو صحت يې ملګرتیا نۀ ورسره وکړه- اخر په ۲۰جنوري ۲۰۰۸کښې له دې فاني نړۍ څخه سترګي دهمېش لپاره پټې کړي دي. اوس په سنځاوۍ کي د اوبړین تنګي په نامه مشهور هدیره کښې د ابد له پاره په خواره خوب ویده دی- روح يې ښاد او پر قبر يې نور شه.

**پایله**:

د سهېلي پښتونخواه تذکره نګارانو چې په کومو حالاتو کښې د پښتو ژبې خدمت کړی او تر خپله وسه ئې د راروان نسل دپاره ډېر څه خوندي کړي دي. د دوی کار ډېر زیات د ستائیني وړ دی خو متاسفانه نن د سوهېلي پښتونخواه په داسي سیمو کښې لکه د کوم ذکر چې په دې مقاله شوی. چیري چې اروابناد اغا نور الله شاه زېږېدلی او لوی شوی دی، هلته او له دې سره شاو خوا سیمو

کښې په اوسني پر مخ تللي دور کښې د ژوند ډېر سهولیات نشته. ځکه د څېړني کار نن هم ګران کار دی، چیري څو لسیزي مخکي. ځکه موږ د دې څېړونکو و کار په درانه نظر ګورو. خو د څېړني کار کښې د هیڅ یو محقق کار د پای ټکي نه لري. په دې کښې هره وخت نوښت راځي. نوې خبرې او نوې نظریې رامنځ ته کیږي او د نړۍ په ګټه تمامیږي. دغه ډول د نړۍ د اقوامو او افرادو تاریخونه سمول کیږي. پر دې اساس د اغا نورالله شاه د ژوند په اړه چې ځیني کوم تیاره ګوټونه ؤ لکه د زوکړې نېټه، د زوکړې ځای، او زدکړې؛ د دې ټولو په اړه مدلل بحث وکړل شو چې د کره دلائیلو په رڼاکښې په ځینو تذکرو کښې راوړل شوي نېټې او ځایونه ناسم لیکل شوي ؤ، هغه ټول مو سم د خپل تحقیق په رڼا کښې سم ولیکل.

## حوالې


(۱) اغا ، نوراللہ شاه،جلوه نور ، ۱۹۹۲، مخ ۵۴

(۲)همدغه، مخ ۴۸

(۳). خان محمد ، حافظ، دکسې ګلان، ۱۹۸۹، بلوچستان بک ډپوکوټه، عدنان جهانګیر پریس لاهور(مخ۶۶۴)

(۴) کاکړ، ولي محمد سیال، دکسې د لمني پښتنانه لیکوال، دوئم ټوک ، بولان بک کار پوریشن کوټه ، ۱۹۸۳مخ، ۶۷۳

(۵) رفیقي، ډاکټر عبدالروف، شکرستان روه، ۲۰۱۰ ،مخ ۲۲۰- ۲۲۳

(۶) سنګریار، محمد یعقوب، ژړ وي مي هغه تللي خلګ، اسلامیه پریس، لاهور،۲۰۱۱، مخ ۷۴

(۷) حمید الله ، صاحبزاده، پښتو ادب په سهیلي پښتونخواکښې،صاحبزاده کتاب کور، پښین ،مخ ۶۴-۶۵

(۸)آغا،نوراللہ شاه،سوانح حیات،(ناچاپ )، ذاتی لائبرېري،سنځاوي

(۹) خان محمد ، حافظ، دکسې ګلان، ۱۹۸۹ ،مخ۶۶۴

(۱۰) حمید الله ، صاحبزاده، پښتو ادب په سهیلي پښتونخواکښې ،مخ ۶۴،۶۵

(۱۱) سیال، ولي محمد کاکړ، دکسې دلمني پښتانه لیکوال ،مخ ۶۷۳

(۱۲) رفیقي، ډاکټر عبدالروف، شکرستان روه، مخ ۲۲۰- ۲۲۳

(۱۳) خان محمد ، حافظ، دکسې ګلان،مخ۶۶۴

(۱۴) سیال، ولي محمد کاکړ، دکسې دلمني پښتانه لیکوال، مخ ۶۷۳

(۱۵) رفیقي، عبدالروف ډاکټر، شکرستان روه ،مخ ۲۲۰- ۲۲۳

(۱۶) آغانوراللہ شاه،سوانح حیات،ناچاپ


- له دې پرته د اغا نوراللہ شاه د ورور نورالحق اغا سره د بسم الله خیالي مرکه شوې چې په دې مقاله کښې ځینو ځایونو کښې د هغې مرکې څخه ځیني مهمې خبري په خپلو ټکو کښې دلته راوړل شوي دي.